# شتمني SHTAMANI
اوونیزه
تأسیس: ۱۳۹۴ل ل
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

رجب المرجب ۱۴ -۱۴٤۷ل س | د مرغومي ۱۵ -۱٤۰۴ل ل | د جنورې ۴-۲۰۲٦ز | پنځم کال | ۱۵۸ گڼه | ٤ مخیزه




**د الله تعالی په نزد ناخوښه شخص**

**ژباړه:** حضرت عایشه رضي الله عنها وایي، رسول الله ﷺ وفرمایل؛ د الله تعالی په نزد تر ټولو ناوړه یا ناخوښه سړی هغه دئ، چي ډېر جګړه کوونکی او د دعوو کولو عادت لرونکی وي.

**شخص ناپسند به نزد پرودگار**

**ترجمه:** حضرت عایشه رضي الله عنها میگوید، که رسول الله ﷺ فرموده: بدترین شخص نزد الله متعال کسی است، که بسیار جنگجو و عادت های دعوا کردن را داشته باشد. {(متفق علیه) الترغیب والترهیب (۵۲)}

(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

## سرمقاله

### فعالیت‌های اقتصادی غیر رسمی و تأثیر آن بر توسعه اقتصادی

فعالیت‌های اقتصادی غیر رسمی به همان فعالیت‌هایی اشاره دارد که بدون ثبت قانونی و مقررات رسمی انجام می شود. در افغانستان این نوع فعالیت‌ها بخش بزرگی از اقتصاد را تشکیل می‌دهند و تأثیرات چشمگیری بر توسعه اقتصادی کشور دارند. این فعالیت ها شامل کسب و کار های روی جاده مثل فروشندگان سیار که در مکان های عمومی محصولات غذایی، پوشاک یا کالا های دیگر را می فروشند، کارگری غیر رسمی مثل افراد که به صورت روزمزد در پروژه های ساختمانی بدون قرارداد رسمی مشغول کار هستند، زراعت و مالداری غیر رسمی مثل افراد که محصولات و مواشی خود را بصورت مستقیم و بدون ثبت قانونی به بازار عرضه و به فروش می رسانند یا صنایع دستی و هنرهای محلی می شوند و به عنوان یک منبع مهم درآمد برای بسیاری از افراد و خانواده‌ها نیز عمل می‌کنند.
فعالیت های اقتصادی غیر رسمی اگر چه از حمایت های قانونی بی بهره اند و نمی توانند به اعتبار و منابع مالی دسترسی داشته باشند و همچنین بدون نظارت و مقررات، کیفیت کالاها و خدمات ممکن است پایین تر باشد، ولی به ایجاد شغل برای افرادی که در بازار کار رسمی نمی‌توانند مشغول به کار شوند، کمک کرده و امکان دسترسی به کالاها و خدمات را برای جامعه در مناطق دورافتاده فراهم کنند.
از سوی دیگر این فعالیت ها می توانند به کاهش فقر از طریق ایجاد درآمد برای هزاران خانواده کمک کنند. در صورتیکه دولت ها اقداماتی برای ثبت این فعالیت ها انجام دهند، می توانند آنها را به سمت اقتصاد رسمی هدایت کنند و از مزایای بیشتری بهره برداری کنند. بهبود فعالیت های غیر رسمی می تواند به توسعه پایدار و رشد اقتصادی پایدار در کشور کمک کند.
فعالیت‌های اقتصادی غیررسمی در افغانستان نقشی حیاتی ای را در اقتصاد بازی می‌کنند. اگرچه چالش‌ها و موانع خاصی وجود دارد، اما با توجه به مزایای آن، نیاز به برنامه‌ریزی و استراتیژی‌های مناسب برای حمایت از این بخش و هدایت آن به سمت اقتصاد رسمی وجود دارد. دولت‌ها و نهادهای بین‌المللی می‌توانند با همکاری در این زمینه به توسعه اقتصادی پایدار و بهبود زندگی مردم کمک کنند.

**با احترام**

**اداره**

## د هیواد اوو گمرکونو ته د څه باندي دوه میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د اور وژني وسایط وپېرل سول



د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د هیواد په گمرکونو کې د اور لگېدني د احتمالي گواښونو د مخنیوي په موخه د څه باندي (۲) میلیونه او (۳٦) زره امریکایي ډالرو په ارزښت (۸) عرادې د اور وژني وسایط وپېرل.
د اور وژني دغه وسایط په تېر (۲۰۲۵) ز کال کې تولید سوي دي او هره عراده د (۱۰) زره لېتره اوبو ځایولو ظرفیت لري.
دغه پېرل سوي وسایط به د (حیرتان، آقینې، ننگرهار، هرات، فراه، نیمروز او کندهار) په گمرکونو کې په کار واچول سي. دغه پروژه د افغانستان اسلامي امارت او ازبکستان هیواد ترمنځ د (G۲G) یا دولت په دولت په ډول قرارداد سوې وه او لگښت ئې د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکړل سوی دئ.
د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت ژمن دئ، چي د هیواد گمرکونه په پرمختللو او عصري تجهیزاتو سمبال کړي؛ څو په هیواد کې د سوداگرۍ لا ودي او د سوداگریزو توکو بشپړ خوندیتوب ته ښه زمینه برابره سي.

## د مالیې وزارت د رهبرۍ پلاوي شپږمه ناسته وسوه




د مالیې وزارت د مالي معین حاجي عبدالقدیر احمد په مشرۍ او د اداري چارو او گمرکونو او عوایدو معینانو، د اړوندو رئیسانو او مسئولینو په گډون د روان (۱۴۴۷هـ.ق) کال د رهبرۍ پلاوي شپږمه ناسته د دغه وزارت په مقام کې وسوه.
په دغه ناسته کې د بولۍ له لارې د تېلو او گازو خرڅوونکو له پاره د مالیې نورم پر وضعه کولو، هیواد ته له بهر څخه د ډکو افغاني وسایطو د خاک پولۍ د معافیت، هیواد ته د باکیفیته نفتي محصولاتو د واردوونکو له پاره د ځانگړي امتیاز او تخفیف، د گمرکونو د پراختیایي پروژو د ښه تطبیق، د گودامونو د معیاري کولو او یو شمېر نورو اړینو موضوعاتو په تړاو بحث او لازمي پرېکړي وسوې.
د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت د رهبرۍ پلاوي ناستي د یاد وزارت د اړوندو څانگو ترمنځ د غوره همغږۍ، ستونزو د حل، چارو ته د ښې رسېدني او لا پرمختگ په موخه ترسره کېږي.

## د اسلام کلا په سرحدي گمرک کي څلور بابه هنگرونه جوړ او گټې اخیستني ته وسپارل سول



د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست له لوري د هرات ولایت د اسلام کلا په سرحدي گمرک کي د (۷۸،۷) میلیونه افغانیو په ارزښت څلور بابه هنگرونه جوړ او گټې اخیستني ته وسپارل سول.
یاد هنگرونه، چي په معیاري ډول جوړ سوي دي، هر یو هنگر ئې په یوه وخت کي د شاوخوا (۸۰۰۰) میټریک ټنه توکو د ځایولو ظرفیت لري. د دې هنگرونو په جوړېدو سره، د سوداگریزو توکو د خوندي ساتلو په برخه کي سوداگرو ته گټې اسانتیاوې رامنځته سوې.
د دې پروژې لگښت د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکړل سوی او چارې ئې هم د یوه افغاني شرکت له لوري بشپړې سوې.
د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت د هیواد د گمرکونو عصري کولو ته ژمن دئ او په دې برخه کي ئې پخوا هم بېلابېلې پراختیایي پروژې پلي کړې او ځیني ئې د پلي کېدو په حال کي دي.

## د مالیې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت (۳۳) شکایتونو ته رسېدنه کړې ده



د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی ریاست د شکایتونو اورېدو آمریت د دغه وزارت اړوند ټولو شکایتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډوني او د یو شمېر مسئولینو ناسم چلند ته د رسېدني مسئولیت پر غاړه لري او ترلاسه سویو شکایتونو ته له ځنډه پرته رسېدنه کوي.
دغه آمریت د روان (۱۴۰۴) کال قوس (لېندۍ) میاشتي له پیل څخه د دغي میاشتي تر پایه پوري په ټوله کي (۳۴) شکایتونه ترلاسه کړي او اورېدلي دي...


ادامه ۲ مخ





د عوایدو لوی ریاست ټاکل سوي پلاوي هرات ولایت ته سفر وکړ


۲




په تېرو دوو اوونیو کي د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي


۲




د عوایدو لوی ریاست د رهبري هیئت نهمه ناسته وسوه


۲




د کندهار مستوفیت او خصوصي سیکټور د مالي برخي کارکوونکو ته د مالیاتي پروسو او اظهارپاڼو ډکولو روزنیز سیمینار جوړ سو


۲




د ټرانزیټ برخي روزنیز پروگرام د پیل غونډه وسوه


۳




د متحده عربي اماراتو شرکت به د افغانستان د سوداگریز سمبالښت ظرفیت لوړ کړي


٤

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه



## د عوایدو لوی ریاست د رهبري هیئت نهمه ناسته وسوه



د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج مولوي سفر محمد سحر په مشرۍ، د دې ریاست د مرستیالانو او اړوندو ریاستونو د رئیسانو په ګډون د عوایدو لوی ریاست د رهبري هیئت نهمه ناسته د ګمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کې وسوه. په پیل کې د تېرې ناستې د سپارل سویو مسؤلیتونو د اجراآتو راپور واورېدل سو، وروسته د عوایدو لوی رئیس د اداري چارو د لا ښې همغږۍ، شفافیت او اغېزمنتیا پر اړتیا ټینګار وکړ او ټولو اړوندو ریاستونو ته ئې لارښوونه وکړه، چې اداري غونډې په منظم ډول ترسره کړي او د دغو غونډو راپورونه د عوایدو له لوی ریاست سره شریک کړي. نوموړي همدارنګه هدایت ورکړ، چې هر ریاست دې د داخلي دقیقې کتنې له پاره ځانګړې کمېټه جوړه کړي؛ ترڅو د داخلي تفتیش سپارښتنو او استعلامونو ته پر وخت رسېدنه وسي، د سپارښتنو د عملي کېدو له پاره لازم اقدامات ترسره سي او اړوند راپورونه د کارپوهانو دفتر ته وسپارل سي. همداراز پرېکړه وسوه، چې د (۱۴۰۳) هـ.ل کال د تفتیش سپارښتني دي د وظایفو د لایحو د تنظیم په موخه د عوایدو لوی ریاست له تخنیکي معاون سره پر وخت شریکي سي؛ ترڅو لازم تخنیکي اجراآت وربانديي وسي. په پای کي ټینګار وسو، چې یادي پرېکړې د اداري چارو د سمون، حساب ورکوني او د عوایدو د سیستم د لا پیاوړتیا له پاره مهمي دي او باید په جدي ډول پلي سي.

## برای فارغان برنامه آموزشی مدیریت کاربردی تصدیقنامه اعطاء گردید

ریاست امور کارکنان وزارت مالیه به (۵۰) تن کارمند ریاست های مرکزی این وزارت که از برنامه آموزشی مدیریت کاربردی فارغ گردیده بودند، طی مراسمی تصدیقنامه‌ها اعطاء نمود. در این مراسم، مولوی احمد شاه شاکر مشاور ارشد امور مالی و اداری مقام وزارت، عبدالوهاب عابد آمر آموزش و ارتقای ظرفیت ریاست امور کارکنان و مولوی وصیف احمد احمدی، امام و مدرس ریاست دعوت و ارشاد اشتراک داشتند. آمر آموزش و ارتقای ظرفیت طی سخنانش از اشتراک کنندگان بخاطر وقت گذاشتن برای کسب و انکشاف مهارت های مسلکی قدردانی نموده افزود، که مهارت های مسلکی موجب سرعت و دقت بیشتر در انجام وظایف سپرده شده می گردد. تلاش کنید تجارب تان را برای توسعه هرچه بیشتر امور و مدیریت مؤثر به دیگر همکاران انتقال دهید. مشاور ارشد مقام وزارت در امور مالی و اداری گفت، زمینه کار و انکشاف مهارت ها به شما فراهم گردیده، تلاش کنید از امکانات استفاده سالم نموده و مسئولیت خویش را به گونه احسن انجام دهید. امام و مدرس ریاست دعوت و ارشاد به عنوان اشتراک کننده برنامه آموزشی از حمایت و پشتیبانی مقام وزارت بخاطر تقویت مهارت های مسلکی و دست اندرکاران این برنامه اظهار امتنان نمود. در اخیر به فارغان برنامه آموزشی تصدیقنامه‌ها اعطاء گردیده و مراسم با دعای خیر اختتام یافت.

## د عوایدو لوی ریاست ټاکل سوي پلاوي هرات ولایت ته سفر وکړ

د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج مولوي سفر محمد سحر په مشرۍ، ټاکل سوي پلاوي د هرات مستوفیت د چارو د ارزوني، څارني او لا ښه والي په موخه دغه ولایت ته سفر وکړ. یاد پلاوي د خپل سفر په ترڅ کي د هرات د کانونو، صنعت او سوداګرۍ خونو له مسؤلینو سره ناسته وکړه. په دې ناسته کي د مالیاتي مکلفیتونو د ادایني پر وړاندي د سته خنډونو او ځنډونو پر لاملونو بحث وسو او د ستونزو د حل پر لارو چارو خبري وسوې. وروسته د یاد پلاوي غړو د هرات ولایت په مقام




کي له والي شیخ الحدیث نور احمد اسلام جار سره هم وکتل. په دې لیدنه کي د هرات مستوفیت د چارو د پرمختګ، تنظیم او چټکتیا په اړه خبري وسوې. د هرات والي د مستوفیت اړوند هري موضوع ته د لومړیتوب ورکولو او بشپړي همکارۍ ډاډ ورکړ. همداراز د مستوفیت د چارو د لا ښه والي، دقت او سرعت په موخه د عوایدو لوی رئیس د هرات مستوفیت په مقام کي له مستوفي، آمرینو او کارکوونکو سره ناسته وکړه. په دې ناسته کي نوموړي د مستوفیت کارکوونکو ته له مراجعینو سره د ښکلو اخلاقو، پر وخت د چارو د ترسره کولو سپارښتني وکړې او خپلي کاري تجربې ئې ورسره شریکي کړې.


## په تېرو دوو اوونیو کي د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو په تېرو دوو اوونیو کي د کندهار، نیمروز، فراه، کندوز او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل له ګمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي. په نیول سویو توکو کي (۹۲۲۰) کیلو ګرامه کېلې، (٦۷۳۹۳) کیلو ګرامه لیمو، (۴۵٦۷) کیلو ګرامه انساني طبي درمل، (۱۳۲۵٦) کیلو ګرامه کینو، (٦۴۲۰) کیلو ګرامه چاکلېټ، (۱۵۷۵) کیلو ګرامه رخت باب، (۸۴۷۵) کیلو ګرامه وریجي، (۲٦۵۲۰) کیلو ګرامه ګوړه، (۸۷۱۵) کیلو ګرامه کبان، (۱۵۰۰) کیلو ګرامه اچار، (۳۴۰۰) کیلو ګرامه مالګه، (٦۰۰۰) کیلو ګرامه وچې شیدې، (۵۹۱۹) کیلو ګرامه نوی البسه، (۴۱۰) کیلو ګرامه ملایي، (۱۱۷۰) کیلو ګرامه رُب، (۲٦۹۰) کیلو ګرامه لواشک، (۱۱۳۸) کیلو ګرامه مکروني، (۱۱۵۲) کیلو ګرامه لیلامي البسه، (۱۰٦۸) کیلو ګرامه لیلامي بوټونه، (۴۱۰۵) کیلو ګرامه آرایشي او بنجاره باب، (۴۰۰) کیلو ګرامه کچالو، (۲۷۵۰) کیلو ګرامه کیک، (۴۲۵) کیلو ګرامه د بسته بندۍ او رول پلاستیک، (۱۴۰) پاکټي کوچ، (۱۱۴) کیلو ګرامه کریم او (۹) دانې اسونه شامل دي. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي.



## د کندهار مستوفیت او خصوصي سیکټور د مالي برخي کارکوونکو ته د مالیاتي پروسو او اظهارپاڼو ډکولو روزنیز سیمینار جوړ سو

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست له لوري د کندهار مستوفیت او خصوصي سیکټور د مالي برخي کارکوونکو ته د مالیاتي پروسو او مالیاتي اظهارپاڼو ډکولو په تړاو سیمینار د کندهار مستوفیت د غونډو په تالار کي ترسره سو. په دې تړاو جوړه سوې ناسته کي د کندهار مستوفي، د عوایدو د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر، د مستوفیت کارکوونکو او د خصوصي سکټور د مالي برخي استازو ګډون کړی وو. په پیل کي د کندهار مستوفي الحاج ملا حکمت‌الله اخوند (محمد رفیق) وویل، چي د هیواد او نظام پرمختګ د ټولو ګډ مسئولیت دئ او د مستوفیت مسئولیت مالیه ورکوونکو ته اسانتیا برابرول دي او



دارنګه د مالیه ورکوونکو مسئولیت بیا پر وخت او قانوني ډول د مالیې ورکړه ده. ده زیاته کړه، چي مالیاتي اظهارپاڼې باید په مستند، دقیق او معیاري ډول ډکي سي؛ ترڅو د مالیه ورکوونکو او کارکوونکو ترمنځ ستونزي کمي سي او ترڅنګ به ئې دغه پروګرامونه د مالي برخي مسئولینو ته د هري میاشتي په پیل کي د شپېږو ورځو له پاره ترسره کېږي. په دې سیمینار کي د اسلامي امارت له فتحي وروسته مالیاتي معافیتونه او تخفیفونه، د افغانستان مالیاتي نظام، د مالیې د تحصیل پروسې، د مالیه ورکوونکو حقوق او مکلفیتونه، د مالیاتي اظهارپاڼو ډکولو څرنګوالی او د مالیې محاسبه هغه اساسي موضوعات ول، چي د عوایدو لوی ریاست له لوري په مسلکي او عملي ډول ګډونوالو ته تشریح سول. د سیمینار په پای کي د ګډونوالو پوښتني او ستونزي واورېدل سوې، چي ورته مسلکي ځوابونه ورکړل سول او د شته ستونزو د حل په موخه لازمي مشورې وړاندي سوې.

### ...د مالیې وزارت د شکایتونو اورېدو

له دې ډلي (۱٦) شکایتونه د وټس اپ له لاري، (۱٦) شکایتونه په حضوري بڼه، (۱) شکایت د صندوق له لاري او (۱) شکایت د برېښنالیک له لاري له دغه آمریت سره شریک سوي دي، چي یاد شکایتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې په برخو کي ول، چي د دغه آمریت له لوري پر وخت رسېدنه ورته سوې ده او (۱) شکایت تر کار لاندي دئ. د یادوني وړ ده، چي ټول هیوادوال کولای سي، چي د مالیې وزارت د بېلابېلو څانګو په ځانګړې توګه د عوایدي سرچینو او د ګومارني په برخه کي د اصلاحاتو په تړاو خپل شکایتونه، وړاندیزونه او نظریات د برېښنالیک، وټس اپ، ټیلیفون، په حضوري بڼه او د شکایتونو د صندوق له لاري له دغه آمریت سره شریک کړي، چي د شکایتونو د اورېدو آمریت به له طبقه بندۍ وروسته دغو شکایتونو ته په شفاف او ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰

وټس اپ نمبر: ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦

برېښنالیک: Officialcomplaints@mof.gov.af

## د کندهار صنعتکارانو او سوداګرو ته د مالیاتو روزنیز پروګرام جوړ سو

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست له لوري د کندهار ولایت صنعتکارانو او سوداګرو ته د مالیاتو په اړه روزنیز پروګرام د یاد ولایت د سوداګرۍ او پانګوني خوني د غونډو په تالار کي جوړ سو. په همدې تړاو جوړه سوې غونډه کي د کندهار مستوفي، د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس، د کندهار سوداګرۍ او پانګوني خوني رئیس او لسګونو سوداګرو او صنعتکارانو ګډون کړی وو. غونډې ته د کندهار مستوفي الحاج ملا حکمت‌الله اخوند (محمد رفیق) د مالیاتو د عامه پوهاوي پر اړتیا او ارزښت خبري وکړې او ټینګار ئې وکړ، چي د مالیاتو په اړه د سوداګرو او صنعتکارانو پوهاوی د اقتصادي نظام د پیاوړتیا له پاره مهم رول لري. همداراز د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس نداء محمد صدیقي د یاد سیمینار پر اهمیت، د مالیې وزارت پر کلیدي دندو او مسئولیتونو او د ملي بودیجې پر جوړښت خبري وکړې. نوموړي وویل، چي د ملي بودیجې ډېره برخه د سوداګرو او صنعتکارانو له مالیاتو څخه تشکیلېږي، چي له مخي ئې په هیواد کي حیاتي او بنسټیزي پروژې تطبیقېږي. په پای کي د عوایدو لوی ریاست له لوري په افغانستان کي د مالیاتو د ډولونو، په مالیاتو کي د



اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د رامنځته سویو معافیتونو او تخفیفونو، د مالیه ورکوونکو د مکلفیتونو او مالیاتي پروسیجرونو په اړه بشپړ معلومات وړاندي سول او د ګډونوالو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل سول.

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

## د ټرانزیټ برخي روزنیز پروګرام د پیل غونډه وسوه

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له تدریسي پلان سره سم د ټرانزیټ روزنیز پروګرام د پیل غونډه وسوه.
په دې غونډه کې د ګمرکونو لوی ریاست د قانون د تنفیذ رئیس حافظ حضرت علي، د کارکوونکو چارو ریاست د ظرفیت لوړوني آمر مفتي عبدالوهاب عابد، د ګمرکونو لوی ریاست د ټرانزیټ آمر خوشحال رحماني، د مالیې وزارت امام او مدرس مولوي عبداللطیف حقاني، د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي او یو شمېر اړوندو مسئولینو ګډون درلود.
د غونډې په پیل کې د ګمرکونو لوی ریاست د قانون د تنفیذ رئیس حافظ حضرت علي په خپلو خبرو کې وویل، چې د نظام د ساتلو او جوړولو له پاره باید افکار سره شریک کړو، غوره همغږي ولرو، زده کړي وکړو او په عمل کې ئې پلي کړو.
د غونډې په اوږدو کې یو شمېر نورو مشرانو هم د دغه ډول




پروګرامونو پر ارزښت او زیاتوالي د ویناوو ترڅنګ، له زده کوونکو سره خپلي تجربې او لارښووني شریکي کړې.
د یادوني وړ ده، چې د دغه (۲۳) ورځني روزنیز پروګرام په لړ کې به (۴۰) تنو ګډونوالو ته د داخلي ټرانزیټ، بهرني ټرانزیټ او د عوایدو په لوړولو کې د دغو ټرانزیټونو د ارزښت په تړاو د مجربو ښوونکو له لوري عملي او نظري روزنه ورکړل سي.

## د اسلام کلا په سرحدي ګمرک کي د باراني اوبو له کبله د ویجاړو سویو ځایونو د بیارغوني چاري پیل سوې

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست، د هرات ولایت مقام او د ټولګټو وزارت په همغږۍ د هرات ولایت د اسلام کلا په سرحدي ګمرک کي، چي په وروستیو اورښتونو کي ئې ځیني ځایونه ویجاړ سوي ول، د بیا رغولو چاري ئې پیل سوې.
دغه ویجاړ سوي ځایونه د موټرونو په تم ځای او د ګمرک د سړکونو ځیني برخي وې، چي سوداګرو او موټر چلوونکو ته ئې ستونزي را ولاړي کړي وې.
د یادوني وړ ده، چي د ګمرکونو لوی ریاست رهبري تل هڅه کوي، چي په ګمرکونو کي د سوداګرو ستونزو ته پر خپل وخت رسېدنه وکړي؛ ترڅو د سوداګرۍ بهیر له خنډ او ځنډ سره مخ نه سي.



## د کندهار پوهنتون ښوونکو ته د مالیاتو په تړاو روزنیز پروګرام جوړ سو

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست له لوري د کندهار پوهنتون ښوونکو ته د مالیاتو په تړاو یو ورځنی روزنیز پروګرام د یاد پوهنتون د غونډو په تالار کي جوړ سو.
په دغه روزنیز پروګرام کي د کندهار پوهنتون رئیس، مرستیالانو، د عوایدو لوی ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر، د کندهار مستوفیت د اطلاعاتو او عامه پوهاوي مدیر او د کندهار پوهنتون د بېلابېلو پوهنځیو ښوونکو ګډون کړی وو.
په پیل کي د کندهار پوهنتون رئیس شیخ مولوي عبدالرحمن د عوایدو لوی ریاست دغه اقدام ښه وباله او هیله ئې وښووده، چي په راتلونکي کي دي هم د یاد پوهنتون محصلینو ته ورته سیمینارونه وړاندي سي او په دې سره به دوی وکولای سي، چي د شرکتونو او بنسټونو مالیات په خورا مسلکي بڼه تصفیه کړي. نو هیله ده، چي د عوایدو لوی ریاست د پوهنتونونو د ښوونکو او محصلینو مسلکي روزني ته هم ځانګړي پاملرنه وکړي.
په یاد روزنیز سیمینار کي د عوایدو د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر روزي محمد نېکمل ګډونوالو ته د مالیاتو په اړه مفصل پریزینټېشن وړاندي کړ، چي پکښې په مالیاتو کي د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري رامنځته سوي معافیتونه او تخفیفونه، د مالیاتو ډولونه، د مالیه ورکوونکو مکلفیتونه، مالیاتي پروسیجرونه، د مالیې سنجونه او د عوایدو د لګښت ځایونه په تفصیل سره تشرېح او ګډونوالو ته د مالیاتو په تړاو چاپ سوي لارښودونه هم ووېشل سول.
په پای کي د ګډونوالو پوښتنو ته تخنیکي او مسلکي ځوابونه ورکړل سول او د افغانستان د مالیاتي نظام د پراختیا په اړه د کندهار پوهنتون د ښوونکو وړاندیزونه او طرحي واورېدل سوې او له مشرانو سره د شریکولو او راتلونکو اقداماتو په موخه یاداښت سوې.




# اعلانات داوطلبی

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاك امارتی وزارت مالیه دوکاکین ذیل واقع ظاهر شاهی مارکیت مندوی کابل مربوط ناحیه اول شهر کابل را به طور جداگانه به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد مدت سال (موقت)
۱. دوکان نمبر ۱۳٦ به مساحت ۱٤,٦ متر مربع واقع ظاهرشاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۵۸۲٦۸)افغانی
۲ دوکان نمبر ۱ به مساحت ٦,٤۸ متر مربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۲٤۳۳) افغانی.
۳. دوکان نمبر ۱۷۱ به مساحت ۲,۸ متر مربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲۸٦۷) افغانی .
٤. دوکان نمبر ۱٦۳ به مساحت ٦ متر مربع مربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۲۹۸۲) افغانی.
کوردینات جی پی اس نمبر ( ٦۹,۱۷۷۵٦ ۳٤,۵۱۷۱
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکان های فوق باشند میتوانند درخواست هایشان را از تاریخ ۱۰/۴_/۱۴۰۴ الی ۱۴۰۴/۱۰/۱۷ به مدت (۱۴) روز به ریاست عمومی املاك امارتی واقع منزل چهارم تعمیر ۱٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس : سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله منزل۵ مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز، شماره تماس:( ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)،مجلس داوطلبی ۱۴۰۴/۱۰/۱۸ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاك امارتی وزارت مالیه جایدادهای ذیل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد .
۱ - موازی ۲۰ متر مربع جای واقع داخل محوطه اداره تذکره الکترونیکی مکروریان کهنه مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۰۵۰۰) افغانی مدت(۲) سال. کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦۹,۵۲۳۲۳ ۳٤,۲۰۰۸٦
۲- موازی ۳۰۰ متر مربع زمین بنام چاه عمیق واقع خوشحال خان مقابل سیلوی مرکز مربوط ناحیه ۵ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۱۱۱۰) افغانی مدت (۳) سال. کوردینات (جی پی اس نمبر ) ٦۹,۱۱۸٦۲ ۳٤,۵۲۳۸۰
۳- یك باب دوکان نمبر B۸۰ به مساحت ۱۸ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۵ شهرك کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٦٦۵۰) افغانی مدت سال (موقت)
٤ - دوکان نمبر A۱۳ به مساحت ٤ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۵ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۷۱۰۰) افغانی مدت (موقت)
۵ - دوکان نمبر A۸۹-۹۰-۹۱ به مساحت ۵٤ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۵ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۵۰۰) افغانی مدت سال موقت
٦- دوکان نمبر B ۸۲-۸۳-۸٤-۸۵به مساحت ۷۲ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۵ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۵۸۵۰۰ ) افغانی مدت سال موقت. کوردینات (جی پی اس نمبر ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,۵۱۵۲۷۲
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق الذکر باشند میتوانند درخواست هایشان را از تاریخ ۱۴۰۴/۱۰/۱ الی ۱۴۰۴/۱۰/۲۱ به مدت (۲۱) روز به ریاست عمومی املاك امارتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس : سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله منزل۵ مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز، شماره تماس:( ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)،، مجلس داوطلبی ۱۴۰۴/۱۰/۲۲ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

### علان داوطلبی

ریاست عمومی املاك امارتی وزارت مالیه دوکاکین ذیل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد .
۱ یك باب دوکان نمبر ٤۵ A٤٤ -بمساحت ۳٦ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۵ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۷۳۰۰ ) افغانی مدت سال موقت.
۲- دوکان نمبر ۱۲-۱۱D۱۰- به مساحت ٦۷,۵ متر مربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۵ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٦٤٤۰) افغانی مدت سال طور موقت.
۳- دفاتر اداری تشنابها و آشپز خانه بنام نمبر B۱٤۰ به مساحت ۱٦۰ متر مربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۵ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۵۲٦٤) افغانی، مدت سال طور موقت .
٤- دوکان نمبر B۵۰ به مساحت ۱۸ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۵ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۲۵۳۰۰ )افغانی مدت سال طور موقت.
۵ - دوکان نمبر A۹۸ به مساحت ٤۸ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۵ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۸۰۰۰) افغانی مدت موقت.
٦ - به تعداد ۳۲ باب دوکان نمبر ۵٦ الی A۸۸ به مساحت مجموعی ۵۰٤ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۵ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٤۹۰۰۰) افغانی، مدت سال موقت. کوردینات (جی پی اس (نمبر ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,۵۱۵۲۷۲
۷- یك باب دوکان نمبر ٦ و ۷ به مساحت ۸,۱ متر مربع واقع منزل اول تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۸۰۰۰) افغانی مدت (۲) سال
۸ - یك باب غرفه نمبر ۲۲ به مساحت ۵,۰٦ متر مربع واقع منزل اول تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٦۳۰۰۰) افغانی، مدت (۲) سال. کوردینات (جی پی اس نمبر ٦۹,۱۷۲۱۹ ۳٤,۵۱۳٤۲
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکاکین فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱۰/۴_/۱۴۰۴ الی ۱۰/ ۱۰/ ۱۴۰۴ به مدت (۷) روز به ریاست عمومی املاك امارتی واقع منزل چهارم تعمیر ۱٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند. آدرس : سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله منزل۵ مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز، شماره تماس:( ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)،، مجلس داوطلبی ۱۱/ ۱۰/ ۱۴۰۴ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسئول مدیر: عبدالقیوم نصیر
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# General Directorate of Customs Purchases 8 Firefighting Vehicles Worth Over $2 mln for 7 Customs Offices



The General Directorate of Customs of MoF has purchased eight firefighting vehicles worth over two million, and 36 thousand US dollars to prevent potential fire threats at Afghanistan's customs offices. These firefighting vehicles were produced in 2025, and each vehicle has a capacity of 10 thousand liters of water. The aforementioned vehicles will be used in the customs offices of 'Hairatan, Aqina, Nangarhar, Herat, Farah, Nimroz and Kandahar'. This project was contracted as a G2G (government-to-government) project between the IEA, and Uzbekistan and its cost was paid from the development budget of MoF. Notably, MoF is committed to equipping the country's customs with advanced and modern equipment to provide a good environment for the growth of trade in Afghanistan, and the complete safety of commercial goods.

# Appointed Delegation of 'General Directorate of Revenues' Visits Herat Province, Vows for Removing Obstacles



The appointed delegation Leaded by the General Director of Revenues, Alhaj Maulawi Safar Mohammad Sahar, visited Herat Province to assess, monitor, and improve the affairs of the Herat Mustofiyat. The delegation met with the officials of the Herat Chambers of Mines, Industry, and Commerce during its visit, they discussed the causes of obstacles and delays in the payment of tax obligations, and discussed ways to solve the issues. Later, the members of the delegation also met with the Governor of Herat Province, Sheikh Al-Hadith Noor Ahmad Islam Jar. During this meeting, they discussed the progress, organization, and speed of the affairs of the Herat Mustofiyat (Directorate of Financial Affairs). The Governor of Herat assured of giving priority to every issue related to the Mustofiyat and full cooperation. In order to further improve the accuracy and speed of the Mustofiyat's work, the General Director of Revenues held a meeting with the Mustofis, sub-directors, and employees at the Herat Mustofiyat. In this meeting, he recommended the staff of Mustofiyat to be polite and timely with clients, and shared his work experiences with them as well.




# د متحده عربي اماراتو شرکت به د افغانستان د سوداګریز سمبالښت ظرفیت لوړ کړي




د ایرېژنیټ ـ eurasianet او بي اېن اي اینټلاینیوز ـ bne INTELLINEWS په نوم دوو بېلابېلو رسنیو د افغانستان د سوداګریز ظرفیت لوړني په تړاو راپورونه خپاره کړي دي. یادي نړیوالي رسنۍ کاږي، چي اسلامي امارت له منځنۍ اسیا او پاکستان سره د سوداګرۍ د زیاتېدونکي حجم د سمبالتیا له پاره چمتووالی نیسي؛ تر څو د منځنۍ او سوېلي اسیا ترمنځ د سوداګرۍ له پاره لاره هواره سي. د نورو راپورونو په حواله استناد کوي، چي وايي اسلامي امارت د (۲۰۲۵)ز د ډیسمبر پر (۷.) نېټه له ډي پي ورلډ ـ DP World سره، چي په دوبۍ کي لوژیستیکي اداري ده، یو تړون لاسلیک کړ؛ تر څو په مهمو سرحدي لارو کي د بار وړلو اسانتیاوي عصري کړي. یادي رسنۍ د متحده عربي اماراتو دولتي خبري اژانس، وام ـ WAM په حواله زیاتوي، چي "دا تړون د افغانستان د اصلي سوداګریزو دروازو د عصري کولو او د مرکزي اسیا او له سوېلي اسیا سره د وصلېدو ستراتیژیک ټرانزیټ دهلېز په توګه د خپل موقعیت د پیاوړتیا په خاطر یو مهم ګام دئ." وايي د تړون په لومړي پړاو کي به د افغان ـ اُوزبک پر سرحد په حیرتان کي په مځکني/ ځمکني بندر کي د تجهیزاتو او مدیریتي سیستمونو لوړول شامل وي. د ډي پي ورلډ پروژې دوهم پړاو به د ډیورنډ پر فرضي کرښه په تورخم کي د عصري کولو کار وګوري. ریپورټونه زیاتوي، چي دریم پړاو د داخلي سړك او اُورګاډي زېربنا ته وده ور کول او د ځانګړو اقتصادي زونونو جوړول په پام کي نیسي. وام اژانس زیاتوي، چي DP World سیمه ییزي کارموندني، د مهارتونو پراختیا او له ملي شریکانو سره د نیږدې همکارۍ زمینې ته لومړیتوب ور کوي. په وروستیو کرښو کي زیاتوي، چي افغان حکومت به د خپلواکي پولي په تړاو دندې چمتو کولو ته دوام ور کړي، چي په دې کي د ګمرکونو، کډوالۍ، امنیت او تنظیمي نظارت ټول کارونه شامل دي او دا ډول چاري به له DP World سره مخ ته بیايي.

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومي ستونزي حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!

اړیکه: ۲۲۱

ریاست عمومی ګمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اګر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!

تماس: ۲۲۱



د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چي د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریک کړي.

ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( ۹۳+ )

برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af